مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۱/۱۲/۳۰

# غزل

په وینه او په خوب مې دا یو نوم پر ژړه اوریږي
پـو هـېـږمـه پـه ځـان د لېونـو کـانـه راکـیږي
بـودا سـومـه د ژونـد لـه هـر پیوندە یمه ستړی
یو ستا سره مي مـینه ولـي ورځ په ورځ زیاتیږي
پـه منـځ کـي مـېلـمـنه سوه د زمان د توپانونو
بېړی به خدای خبر چي د ساحل غـېـږ ته رسیږي
که هـر څه د حـکمت فـالونـه ګـوري افلاطونه
لـومـړی خـښته کـږه وه دا مـانۍ به را نړیږي
مـلیار چـي په لوی لاس ورکړي زاغانو ته بلني
بلبل به په سرو سترګو له ګلخانګو ځي کوچیږي
زاهـده نـن دي وار دی د مـستیـو د رقـصونو
د خُم له زخـمـي زړه مو د مُغان ویني څڅیږي
راځه جهاني بس که د غـزل لـه سترګو اوښکي
دا بـزم ازلـي دی تـر قیـامـتـه بـه پـاتـیږي

د ۲۰۲۱ کـال د اپـریـل دوه ویشتمه ویرجینیا.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ